د افغانستان اسلامي امارت
د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت



# عودت راستنېدنه
اونیز هفته نامه

(۷۵) تله ۱۴۰۴: شماره (۷۵) میزان ۱۴۰۴ : صفحه اول: لومړی مخ

## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر په داسې حال کې چې د اسلامي امارت څو تنو نورو چارواکو هم حضور درلود د پاکستان د جماعت اسلامي ګوند له پلاوي سره وکتل

په دې ناسته کې چې د کابل او اسلام اباد پر اړیکو او د شته ستونزو پر حل خبرې وشوې، د پاکستان د جماعت اسلامي غړو،ګوند په افغانستان کې د سولې او ټیکاو ستاینه وکړه او زیاته یې کړه، چې د اسلامي امارت له بریا وروسته د افغانستان حالت د ډاډ وړ ګرځېدلی دی.

دغو پاکستاني علماوو د اسلامي ټولنو پر یووالي په ټینګار سره یادونه وکړه، چې په افغانستان کې د اسلامي نظام په ټینګښت سره هیله لري، چې افغان حکومت نورې نړۍ ته یوه ښه بېلګه شي.

د ناستې پر دوام له پاکستان څخه راغلي یاد پلاوي د افغان او پاکستاني علماوو نږدې اړیکې ارتیا وبلله او زیاته یې کړه، چې د کابل او اسلام اباد تر منځ د شته ستونزو د حل په موخه باید خبرو ته لومړیتوب ورکړل شي.

محترم مولوي عبدالکبیر د پاکستان د جماعت اسلامي ګوند پلاوي ته ښه راغلاست وویل او په تېرو څو لسیزو کې. له افغانانو سره یې د پاکستان د ولس د مرستو او همکاریو له امله مننه وکړه.

محترم وزیر وویل، چې د اسلامي امارت د همکارۍ لمن پراخه ده او د ستونزو د حل په برخه کې خبرو او ډیپلوماسۍ ته لومړیتوب ورکوي.

محترم مولوي عبدالکبیر د سیمې حالت ته په کتو یادونه وکړه، چې کابل او اسلام اباد باید په سوله کې ژوند وکړي او څرګنده یې کړه، چې د افغان ولس د جهاد له برکته په سیمه کې ثبات رامنځته شوی دی.

محترم وزیر له افغان کډوالو سره ناسم چلند او پوځي اقدامات د اندېښنې وړ یاد کړل او په وینا یې چې دا ډول کړنې باید تکرار نه شي.



## وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان با نماینده گان مهاجرین ولسوالی نکی ولایت پکتیکا دیدار کرد

محترم مولوی عبدالکبیر وزیر امور مهاجرین و عودت کنندگان با نمایندگان مهاجرین ولسوالی نکی ولایت پکتیکا، در دفتر کارش، دیدار کرد.

این بزرگان قومی از پکتیکا که در حال حاضر در ولایت خوست ساکن هستند، به نمایندگی از دهها خانواده بیجاشده و برگشت کننده، خواسته ها و پیشنهادات خود را با محترم وزیر امور مهاجرین در میان گذاشتند.

آنان، کمک های کوتاه مدت امارت اسلامی به مهاجرین را مناسب توصیف کرده افزودند: عودت کنندگان گذشته و فعلی برای اقامت دائمی به شهرک ها نیاز دارند و امارت اسلامی باید در ولایت خوست برای آنها زمین مسکونی فراهم کند.

آنها همچنین خاطرنشان کردند که بازگشت کنندگان و بیجاشده گان به کار نیاز دارند و امارت اسلامی پروژه‌های توسعه‌ای را در مناطق بازگشت کنندگان در نظر بگیرد.

محترم مولوی عبدالکبیر از بزرگان قومی که تشریف آورده بودند، استقبال نموده و افزود: امارت اسلامی دهها شهرک را برای مهاجرین در نظر گرفته است و در هر ولایت به نیازمندان توزیع خواهد شد.

محترم وزیر امور مهاجرین اظهار داشت که برای تطبیق پیشنهادات ارائه شده با ادارات مربوطه هماهنگی خواهند کرد.



## د کډوالو وزارت د دفتر رییس د تورخم انتقالاتو آمریت او د کډوالو د راستنېدو له پروسې څخه لیدنه وکړه

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د دفتر رییس محترم مولوي سعید احمد بنوري د ننګرهار ولایت د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست د تورخم د انتقالاتو آمریت او له پاکستان څخه د کډوالو د راستنیدو پروسه څخه لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې له ښاغلي بنوري سره د تورخم د انتقالاتو امر ملا محمد خالص هم ملتیا کوله، د راستنېدونکو وضعیت څخه یې له نږدې لیدنه وکړه، له هغوی یې پوښتنې وکړې او د هغوی ستونزې یې واورېدې.

نوموړي له دولتي او همکارو بنسټونو غوښتنه وکړه، چې له کډوالو سره نیک چلن وکړي او د هغوی کارونه له ځنډ پرته خلاص کړی .د دفتر رییس همداراز د کډوالو لپاره له روغتیایي مرکزونو هم لیدنه وکړه او مسوولینو ته یې لازمې لارښوونې وکړې.



## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر په خپل کاري دفتر کې د اسلامي امارت له درې تنو چارواکو سره وکتل

په دې ناسته کې چې د معلوماتو او احصائې ملي ادارې معین، د ټرانسپورت او هوایي چلند او د شیهدانو او معلولینو چارو وزارتونو معینانو حضور درلود، د اسلامي امارت د لاسته راوړنو او ولس ته د حکومت لخوا د وړاندې کېدونکو خدمتونو په هکله خبرې وشوې.

د ناستې محترمو ګډونوالو روان کال د اسلامي امارت شوي کارونه مثبت یاد کړل او زیاته یې کړه، چې د ګڼو نیمګړتیاوو سربېره حکومت توانېدلی چې له پلان سره سم خپلې موخې ترلاسه کړي.

مولوي عبدالسلام حقاني یادونه وکړه، چې د احصائې او معلوماتو ملي اداره مراجعینو ته د غوره خدمتونو په موخه د ورځې تر ناوخته کار کوي او څرګنده یې کړه، چې د احصائې ملي اداره د لاپرمختګ په حال کې ده.

دغه راز د ټرانسپورت وزارت معین مولوي فیض الله جمال او د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت معین مولوي عبدالحکیم حقاني هم په امارتي ادارو کې د لاسته راوړنو یادونه وکړه او د خپلو خبرو پر دوام یې د کډوالو ځینې اړوند موضوعات له محترم وزیر سره شریک کړل.

محترم مولوي عبدالکبیر د اسلامي امارت حاضرو چارواکو ته ښه راغلاست وویل او د امارتي ادارو د پرمختګ له امله یې د مسوولینو او چارواکو د هڅو ستاینه وکړه.

محترم وزیر وویل، چې د اسلامي نظام مسوولیتونو ته په کتو د نظام ساتنه او د ولس د ستونزو حل د اسلامي امارت لومړیتوب دی.

د ناستې په پای کې محترم مولوي عبدالکبیر د راستنو شوو او په بهر کې د افغان کډوالو ستونزو ته د رسیدنې یادونه وکړه او زیاته یې کړه، چې اسلامي امارت په لویه کچه د کډوالو ستونزو حل ته تابیا نیولې ده.



## به ارزش نزدیک به یک میلیون دالر؛ پنج تفاهم نامه در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید

پنج تفاهم نامه همکاری به ارزش ۹۷۴هزار و ۵۱۱ دالر امریکایی با موسسات آشیانه، هماهنگی کمک های بشری، همبستگی و مساعدت افغانستان نوین ، توانمندی ماموریت زنان افغانستان وباز سازی واجتماعی افغان در وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان به امضا رسید.

به اساس تفاهم نامه عقد شده موسسات مذکور مبلغ ذکر شده را در بخش های توزیع کمک نقدی، آموزشی خدمات محافظت از اطفال، مدیریت قضیه و افرایش سطح آگاهی در مورد حقوق اطفال، توزیع بسته های صحی ابزار کار، آگاهی دهی، تهیه آب آشامیدنی صحی و زباله دانی وتوزیع مواد خوراکی در ولایات هرات، لوگر، پکتیکا، ننگرهار و زابل به مصرف میرسانند که با تطبیق آن ۲۵۷۱۴ خانواده برگشت کننده و ۷۷۷۳۰ تن بیجاشده، برگشت کننده و جامعه میزبان از آن مستفید خواهند گشت.



## په کندوز ولایت کې د کډوالو د سرپناه په موخه د ځمکې وېش پیل شو

په کندوز ولایت کې د چهاردرې ولسوالۍ د خواجه کفتر په ښارګوټي کې اړمنو کډوالو لپاره د سرپناه د برابرولو په موخه د ځمکې د وېش بهیر پیل شو.

دا وېش د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د (٦) ګڼې فرمان پر بنسټ او د دایمي اسکان د مرکزي هیئت په همکارۍ د ولایتي کمېټې او د ځمکې وېش تخنیکي ټیم په همغږۍ ترسره شو.

د جوړ شوي پلان له مخې به ځمکه هغو کډوالو ته وېشل کېږي، چې مخکې له مخې د دایمي اسکان د مرکزي هیئت له خوا د ولایتي کمېټې سره شریک شوي او د تثبیت وروسته وړ ګڼل شوي دي.

د دې بهیر موخه د کډوالو لپاره د دایمي سرپناه برابرول او د دوی ټولنیز ادغام د ښاري ژوند په جوړښت کې دی.



## د جوزجان ولایت د کډوالو رییس د ملګرو ملتونو د پناه ورکوونکو عالي کمیشنرۍ د شمال زون له مسوولې سره ولیدل

د جوزجان ولایت د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو رئیس ملا امان الله طلحه، د ملګرو ملتونو د پناه ورکونکو عالي کمیشنرۍ د شمال زون له مسوولې آغلې دانیا او ورسره مل پلاوي سره ولیدل.

د دې ناستې موخه د هغو برنامو او فعالیتونو په اړه خبرې وې چې د جوزجان ولایت په کچه د همکارو بنسټونو له لوري عملي شوي او یا هم روان دي.

آغلې دانیا د جوزجان د کډوالو ریاست او د ملګرو ملتونو د پناه ورکونکو عالي کمیشنرۍ ترمنځ د ښې همغږۍ قدرداني وکړه او د لا زیاتې همکارۍ غوښتنه یې وکړه.

د مهاجرینو رییس، ملا امان الله طلحه، د هغو مرستو او پروژو له امله مننه وکړه چې په روان میلادي کال کې د یادې کمیشنرۍ له لوري پلي شوې دي، او غوښتنه یې وکړه چې د جوزجان ولایت د بېرته راستنېدونکو او زیانمنو قشرونو د ملاتړ لپاره د ښوونځیو د جوړولو او د کوچنیو حرفوي پروګرامونو د پلي کولو په برخو کې نورې مرستې هم وشي.



## بیش از ۵۰۰ خانواده در ۸ ولایت کشور، کمک شد

برای ۵۵٦ خانواده بیجاشده، برگشت کننده و نیازمند در ولایات، کابل، غزنی، بادغیس، بغلان، جوزجان، ننگرهار،بلخ، سرپل، کمک های نقدی و خیمه در هفته روان توزیع شد.برای ۱۳٦ خانواده در غزنی مبلغ دو میلیون ۱۱۵ هزار و ٤۰۰ افغانی، برای ۱۵ خانواده در بادغیس مبلغ ٥٤ هزار و ٥۱۰ افغانی، برای ۳۸ خانواده در بغلان مبلغ ٤۳۱ هزار و ۸۰۰ افغانی و یک باب خیمه، برای ۱۱٦ فامیل در کابل مبلغ دو میلیون ٥۳۲ هزار و ۲۰۰ افغانی، همراه با یک باب خیمه، برای ۱۵ خانواده در جوزجان مبلغ ۲۱۵ هزار افغانی، برای ۱٦۰ خانواده در ننگرهار مبلغ ۲ میلیون ٥۷٦ هزار افغانی، برای ۳٤ خانواده در سرپل مبلغ ٥۹٥ هزار افغانی و برای ٤۲ خانواده در بلخ مبلغ ۷۷۷ هزار و ٥۰۰ افغانی کمک نهاد های همکار بود که پس از شناسایی برای آنان توزیع شد.

طبق یک خبر دیگر، برای ٥٦ تن از افراد دارای نیازمندی خاص در ولایت دایکندی مبلغ ۱۷٦ هزار و ٥۷۰ افغانی، برای ۹۹ تن در ولایت کابل مبلغ ۹۹ هزار افغانی جهت دریافت اسناد مدنی و برای ۱۸ تن برگشت کننده در ولایت بدخشان مبلغ ٤٥۷ هزار و ۲۰۰ افغانی کمک موسسات همکار بود که هریک آن را پس از شناسایی توسط ادارات مهاجرین دریافت نمودند.



## برنامه آگاهی دهی صحت روانی در ولایت سرپل برگزارشد

برنامه آگاهی دهی صحت روانی از طرف آمریت امور مهاجرین ولایت سرپل به همکاری اداره خیریه برای انکشاف افغانستان( ودان) برای ۹۱ تن بر گشت کننده ها، جامعه میزبان و بیجاشده ها از تاریخ ۱۲ الی ۱٦ میزان در آن ولایت برگزاراشد. برنامه یاد شده در مربوطات ولسوالی سید آباد آن ولایت برگذار و در رابطه به صحت روانی آگاهی لازم برای آنان ارایه گردید.